مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ شپږمه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۷مه | ۷۳۹مه ګڼه

# امریکا ته د ولسمشر غني د سفر پای؛

## بایډن: ځواکونه وباسو، افغانان دې د راتلونکي په تړاو په خپله پرېکړه وکړي



۳

### امریکا ته د حکومتي مشرانو د سفر پایله

۲ مخ

### د جګړې شدت؛ حکومت او طالبـانو تـه څه پکار دي؟

۲ مخ

### «با وجود گذشته ها، باز باشیم»

۳ مخ

## بلېنکن: په افغانستان کې د طالبانو له خوا روان تاوتریخوالی د منلو نه دی

امریکا وایي، د طالبانو له خوا روان تاوتریخوالی د سولې له روحیې سره په ټکر کې دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن په یوه خبري کنفرانس کې د خبرو پر مهال ویلي، دوی غواړي ډاډه شي چې طالبان په رښتیا د سولې غوښتونکي دي او کنه. د بلېنکن په وینا، طالبانو دمګړی جګړې شدیدې کړي چې د جګړو دا شدت د سولې له خبرو سره همغږې نه دی.

هغه ټینګار کړی چې په افغانستان کې هېڅ لوری هم د زور له لارې واک ته نه شي رسېدلی او نه هم امریکا د دې ملاتړې ده چې په افغانستان کې دې جګړه او تاوتریخوالی دوام وکړي او تر څنګ یې دې یو ځانګړی لوری د خلکو له خوښې پرته ځان واک ته ورسوي.

امریکا دا ځرګندونې داسې مهال کوي چې د سولې خبرې دمګړی په ټپه ولاړې دي، خو جګړې د هېواد په ګوټ ګوټ کې زیاتې شوې دي.

په ورته امریکایي سناتوران بیا ټینګار کوي چې باید ټول امریکایي ځواکونه له افغانستان ووځي. ځینو امریکایي سناتورانو د دغه هېواد له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې د دغو ځواکونو حضور د افغانستان لپاره بې ګټې دی او د بایډن ادارې ته په کار ده چې له خپلې پرېکړې په شا نه شي.

## فاکس نیوز: امریکایي الوتکو په بغلان او کندز کې پر طالبانو بریدونه کړي



۲ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### اهل بیت د لوړو زده کړو موسسه

یادې موسسې د خپلو محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره علمي تفاهم‌لیکونه لاسلیک کړي دي، چې دوی یې له مخې خپل محصلین د زده کړو لپاره ورلېږي.




## سوداګرۍ او پانګونې خونه: بهرنیو هېوادونو ته په افغاني صادراتو کې ۱۵ سلنه زیاتوالی راغلی



د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، چې د روان میلادي کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د افغانستان په صادراتو کې ۱۵ سلنه زیاتوالی راغلی. د دې خونې د صادراتو د پراختیا رییس میر زمان پوپل له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې بهرنیو هېوادونو ته د هوایي دهلېزونو له لارې د افغاني صادراتو کچه لوړه شوې ده.

د نوموړي په خبره، په تېرو پنځو میاشتو کې شاوخوا ۴ زره ټنه صادرات چې ارزښت یې ٦٨ میلیونه ډالره کېږي، بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي.

پوپل دغه راز وایي، په صادرو شویو توکو کې غالۍ، وچه مېوه او حیواني محصولات شامل دي چې لوېدیځو هېوادونو، دوبۍ، چین او یو شمېر نورو هېوادونو ته صادر شوي دي.

د یادونې ده چې افغانستان په وچه پورې تړلی هېواد او له سمندري لارو ته مستقیم لاسرسی نه لري، له همدې کبله یې په دې وروستیو کې له ځینو هېوادونه سره هوایي دهلېزونه پرانیستي او له همدې لارې سوداګریزه راکړه ورکړه کوي.

## میرزکوال: طالبان تلاش دارند تجهیزات جنگی دولت را به پاکستان ببرند



عبدالستار میرزکوال، سرپرست وزارت امور داخله ادعا می کند که طالبان می کوشند تجهیزات جنگی نیروهای دولتی را که بدست آورده‌اند، به پاکستان انتقال دهند.

سرپرست وزارت داخله که به پکتیا رفته‌است، می‌گوید که طالبان می‌خواهند از راه زابل تانک‌ها و تجهیزات نظامی دیگر را به پاکستان انتقال دهند.

او در این باره بیان داشت: «این اطلاعات هم وجود دارد که طالبان بعضی از تانک‌ها را از راه زابل به پاکستان انتقال بدهند. شورای امنیت و سرقومندانی اعلی قوای مسلح دستور داده‌است که گزمه هوایی دایمی انجام شود تا هر تانکی که به‌سوی پاکستان انتقال داده شود، آماج قرار بگیرد.»

شمیم خان کتوازی، رئیس ادارۀ مستقل ارگان‌های محلی نیز بیان داشت: «وسایلی را که از نیروهای امنیتی استند، آن‌ها را به آن طرف دیورند انتقال داده‌اند. در این باره، تصویر و شواهد وجود دارد که سربازان پاکستانی با آن‌ها عکس گرفته‌اند.»

اما ذبیح‌الله مجاهد، سخن‌گوی طالبان انتقال تجهیزات را از سوی این گروه به پاکستان را رد می‌کند. این در حالی است که نبردها میان نیروهای دولتی و طالبان در پکتیا ادامه دارد. نیروهای دولتی توانستند کنترل ولسوالی میرزکه این ولایت را دوباره بدست بگیرند.

مقام‌های محلی در پکتیا می‌گویند که در جریان عملیات پس‌گیری این ولسوالی جنگجویانی را بازداشت کرده‌اند که پاکستانی استند و در صفوف طالبان در این ولایت می‌جنگیدند.

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### امریکا ته د حکومتي مشرانو د سفر پایله

د امریکا لـه ولسمشر جو بایډن سره د اشرف غني او ډاکټر عبدالله لـه لیدنې وروسته ویل شوي، چې دواړو اړخونو پر روان وضعیت، دوه اړخیزو اړیکو او سوله خبرې کړې دي. افغان چارواکي وایي، امریکا ډاډ ورکړی چې د ځواکونو لـه وتلو سره سره بـه لـه افغانستان سره مرستې او ملاتړ تـه دوام ورکړي. د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ او د اقتصادي، سیاسي او بشري حقونو په برخه کې د مرستو دوام د بایډن ژمنې ګڼل شوې دي. ولسمشر غني وایي د ۲۰۲۲ کال لپاره د امریکا ۳.۳ میلیارده ډالره نظامي مرسته، د افغانستان اقتصادي ملاتړ او ځینې نور مسایل د دې سفر لویې لاسته راوړنې دي.

پوښتنه دا ده چې رښتیا هم د افغان چارواکو دغه سفر کومه لاسته راوړنه لرله او نوي څه پکې وو؟

د افغانستان خلکو هیله لرله چې په دې سفر کې بـه امریکا د افغان سولې پـه اړه واضح پیغام ورکړي او لـه دې سره بـه د سولې پـه تړپه ولاړې خبرې بیا پیل شي، خو داسې ونه شول. د امریکا لـه اړخه یوازې ویل شوي چې لـه سولې پرته بله لاره نشته، دوی یې ملاتړ کوي، طالبانو بې مانا تاوتریخوالی زیات کړی، طالبان باید پـه زور واک ونـه نیسي، خو تر دې ور هاخوا پـه دې برخه کې کومه مهمه خبره نـه ده شوې. لـه همدې املـه د افغانانو اساسي هیلـه پـه دې سفر کې پوره نه شوه. څه چې حکومتي مشران یې د لاسته راوړنو پـه توګه یادوي، لاسته راوړنې نـه دي، بلکې د امریکا پخوانی دریځ او ژمنې دي چې یو ځل یې بیا افغان چارواکو تـه مخامخ بیان کړي دي. امریکا پخوا ویلي وو چې دوی ځواکونه وباسي، خو سفارت او سیاسي حضور بـه یې پـه افغانستان کې دوام کوي. امریکا پخوا ویلي وو چې دوی بـه د افغان ځواکونو مالي ملاتړ تـه دوام ورکوي. امریکا دا هم ویلي وو چې د افغانستان لپاره د دوی نظامي بودجه پـه ۲۰۲۲ کال کې ۳.۳ میلیارده ډالره ده، امریکایي چارواکو دا هم ویلي وو چې دوی به لـه افغانستان سره پـه اقتصادي او نورو ملکي برخو کې مرستو تـه دوام ورکړي. د امریکا دا دریځ هم ښکاره و چې دوی د طالبانو لـه جګړې ناراضه دي او دوی نـه غواړي چې طالبان پـه زور واک ونیسي. دا او دې تـه ورته ژمنې پخوا هم وې او دا دې یو ځل بیا یې له افغان چارواکو سره پـه لیدنه کې تکرار کړې. پـه دې برخه کې هېڅ داسې نوې خبره نشته چې موږ دې ورته لاسته راوړنـه ووایو، ځکه دا هر څه له مخکې معلوم وو او داسې مهم څه نشته چې پخوا دې امریکایانو نـه وي ویلي او اوس دې یې لـه افغان چارواکو سره ژمنه کړې وي.

د امریکا لـه دریځه ښکاري چې دوی پـه افغانستان کې نور د سولې پروسه جدي نه ګڼي او یوازې د جګړې لـه دوام سره مرسته کوي. امریکا غواړي چې اوسنی حکومت د طالبانو پر وړاندې مقاومت وکړي، لږ تر لږه کابل او لوی ښارونه وساتي او نور جګړه دوام وکړي. لـه همدې املـه پـه همدې حد کې د حکومت ملاتړ کوي. امریکا د افغان حکومت داسې ملاتړ نه کوي چې د طالبانو پر وړاندې پرمختګ وکړي او یا هم لږ تر لږه د طالبانو پرمختګ ودروي، بلکې یوازې لوی ښارونه او کابل باید خوندي وي. د دې تر څنګ چې دوی پـه نظامي برخه کې د حکومت پوره ملاتړ نـه کوي، د سولې لپاره هم نـه پر حکومت او نـه هم پر طالبانو فشار راوړي. لـه همدې املـه امریکا غواړي چې جګړه دوام وکړي، خو د جګړې د دوام لپاره باید پـه کابل او لویو ښارونو کې د حکومت د سقوط او ماتې مخه ونیول شي او په همدې اندازه له حکومت سره مرسته کوي.

# د جګړې شدت؛ حکومت او طالبانو ته څه پکار دي؟

لیکنه: زاهد خلیلي

د پوهنتون د لیلیې پـه اطاق کې ناست وم چې پـه خبرونو کې مې پـه دې خبر سترګې ولګېدې، چې امریکا لـه طالبانو سره د مذاکراتو لپاره زلمی خلیلزاد د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي پـه توګه ګومارلی دی، څو د امریکا د تاریخ اوږده کشاله د خبرو لـه لارې هواره کړي. د دغه خبر پـه لوستو مې لـه سترګو د خوشالۍ اوښکې روانې شوې. وجه دا وه چې طالبانو لـه حکومت سره نېغې خبرې ردولې او مخامخ یې لومړی له امریکا سره مذاکرات غوښتل. د امریکا لـه لوري لـه طالبانو سره د مخامخ خبرو نـه کول د جګړې د غځېدو یو مهم لامل ګڼل کېده.

د خلیلزاد لـه ګومارلو او لـه طالبانو سره د امریکا مخامخ مذاکراتو پـه پیل کېدو سره د جګړې د یو لوري مهمه غوښتنه ومنل شوه او هیله مندي یې پیدا کړه چې روانه جګړه بـه ژر پای تـه ورسېږي.

زما لویه هیله هم دا وه چې طالبان او امریکا بـه ژر یوه تفاهم ته ورسېږي او بیا بـه حکومت او طالبان پـه یوه بین الافغاني تفاهم کې د افغان د وینو د روان سېلاب مخه ونیسي.

خو زما محاسبه غلطه وه، غلطه ځکه وه چې یو خوا د طالب- امریکا مذاکراتو ډېر وخت ونیو او تر څنګ یې افغان وژنه هم روانه وه. طالبانو د حکومت لـه لوري د اوربند وړاندیزونه پرله‌پسې ردول، سره لـه دې چې ظاهراً د اورکم خبره کېده، خو ولې دې اورکم هم هره ورځ دنګې ځوانۍ رانړولې.

بالاخره د ۲۰۲۰ کال پـه فبروري میاشت کې پـه دوحه کې د طالب- امریکا تر منځ تړون لاسلیک شو. دغه تړون یوه بله هیله دا پیدا کړه چې د طالبانو په غوښتنه د جګړې له بهرني عامل سره تړون وشو او اوس بـه ژر د جګړې لـه کورني اړخ سره خبرې وشي او یو تفاهم تـه به سره ورسېږي، خو له یو کال زیات وخت وشو چې تر اوسه هغومره پرمختګ نـه دی شوی څومره چې د خلکو هیله وه.

د دوحې د تړون یوه لویه نیمګړتیا دا وه چې خلیلزاد پکې د کابل چکرونه وهل، خو کابل پـه تړون کې له اندازې زیات لـه پامه وغورځول شو. د دوحې لـه تړون وروسته د کابل له لوري تړون لـه ننګونو سره مخ او هغه ډول چې د دوحې پـه تړون کې منل شوي وو، د تړون مواد پر وخت پلي نه شول او د کابل لـه لوري یې پر وړاندې خنډونه ایجاد شول چې دا پـه خپلـه د جګړې د غځېدو او د پر وخت مذاکراتو د نـه پیل یو لامل وګرځېد.

لـه افغانستانه د بهرنیو عسکرو د وتلو پروسه روانه ده او د بین الافغاني مذاکراتو له رسمي پیل دا دي میاشتې تېرېږي، خو وینو چې تر اوسه لازم پرمختګ نـه دی شوی. ښایي د مذاکراتو د نـه پرمختګ یو لامل د دوحې د تړون د یوې اصلي مادې پـه وخت د بهرنیو پوځیانو د وتلو نـه پلي کېدل وي، ولې د امریکا د ولسمشر جو بایډن لـه لوري د روان کال د سپټمبر تر یوولسمې د ټولو بهرنیو عسکرو د وتلو اعلان او بیا د بېلابېلو چارواکو لـه لوري د بایډن د پلان پر عملي کولو ټینګار د دې ښودنه کوي، چې امریکا به که لویه ستونزه نه وي، نو تر سپټمبر پورې بـه خپل عسکر لـه افغانستانه وباسي. اوس چې د امریکایي ولسمشر پـه ګډون بېلابېل چارواکي پر وخت د بهرنیو عسکرو د وتلو خبره او ټینګار پرې کوي، نو حکومت او طالب ته پکار ده چې هغه څه وکړي چې هم یې ولس او هم یې تاریخ تـه سترګې ټیټې نـه شي.

حکومت دې لومړی خپل داخلي اختلافات شاته وغورځوي او لـه کابل څخه دې پـه یوه واحد دریځ کې پـه مذاکراتو کې ګډون وکړي او د جمهوریت او نورو لاسته راوړنو د ساتلو پـه نوم دې مذاکرات لـه خنډ او ځنډ سره نـه مخ کوي او د اختلافاتو حل او د دولت/نظام پـه اړه مهمې پرېکړې دې بین الافغاني مذاکراتو ته پرېږدي. د حکومتي مشرانو تر منځ اختلافات هغومره جدي هم نـه ښکاري، چې وښیي د دوی کړنې د مذاکراتو پروسه لـه خنډ سره مخ کړې او یا د جګړې د شدت د زیاتوالي لامل شوي دي.

برعکس، د دوحې له تړون وروسته چې د تاوتریخوالي کومه څپه د طالبانو لـه لوري پیل شوې او طالب پکې د حکومت د اوربند او تر ډېره حده د اورکم خبره لـه پامه وغورځوله، نو د طالبانو دې کړنو ولس ډېر اندېښمن کړی دی. طالبانو جګړه نوره هم پراخه کړې او هره ورځ لسګونه کسان د دوی پـه بریدونو کې وژل کېږي.

د جګړې لـه شدت او پراخېدو سره ډېر زیان عام ولس تـه رسېږي. ولس بې ځایه کېږي، د اوسېدو ځایونو او شتمنیو تـه یې زیان رسېږي او تر ټولو مهمه دا چې عامه خدماتو تـه یې لاسرسی لـه ستونزو سره مخ کېږي. وروستیو ورځو کې د طالبانو لـه لوري پـه ځانګړي ډول د هېواد پـه شمال کې د بېلابېلو ولسوالیو سقوط او بیا د لسګونو عسکرو وژل کېدلو او زرګونو ولسي خلکو بې ځایه کېدلو مسوول طالبان دي. طالبان ولسوالۍ او سیمې ونیسي، خو تر ډېره یې ساتلی نـه شي او کلـه چې حکومتي عسکر د طالبانو له لوري د نیول شویو سیمو د بېرتـه نیولو لپاره ځوابي عملیات کوي، نو پـه دې کې دویم ځل بیا ولس ته زیان رسېږي.

اوس خو د هېواد لـه شمال څخه خپه کوونکي خبرونه هم را روان دي. هغه دا چې د حکومتي عسکرو تر څنګ اوس عامو خلکو هم د طالبانو پر ضد وسله اخیستې. د دې یو لامل د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د شمال ترخه ماضي ده چې د شمال خلک ترې ښې خاطرې نـه لري او وېرېږي چې کـه دا ځل طالبان پرې واکمنېږي، نو ښایي وضعیت نور هم بدل او خونړی وي.

طالبانو تـه پکار ده چې لږ تر لږه د مذاکراتو پر مهال د جګړې شدت کې لږوالی راولي. د طالبانو لومړی آپشن باید د مذاکراتو له لارې بریالي کېدل او د مذاکراتو پر مېز د چنو وهلو لـه لارې د خپلو موخو تر لاسه کول وي او کـه خدای مه کړه بین الافغاني خبرې ناکامېږي، نو بیا طالبان کولی شي چې نور آپشنونه وکاروي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د استازې لاینز دا خبره بالکل پر ځای ده، چې اوس د خبرو د مېز پر ځای د جګړې پـه ډګر کې فعالیت زیات دی، نو جګړه کې روان شدت او پراخېدو ته پـه کتو پکار ده چې د جګړې د ډګر پر ځای د مذاکراتو مېز کې فعالیت زیات شي.

د جګړو دواړو لورو پـه ځانګړي ډول طالبانو تـه پکار ده چې جګړې تـه د شدت او پراختیا ورکولو پر ځای جدي مذاکراتو تـه ننوځي او ژر داسې یوې پایلې ته ورسېږي چې هم اسلامي او هم ملي ارزښتونه پکې خوندي شوي وي، کـه داسې ونـه کړي، نو ولس او تاریخ بـه یې ونه بښي.

# فاکس نیوز: امریکایي الوتکو په بغلان او کندز کې پر طالبانو بریدونه کړي




لـه افغانستانه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو د بهیر له پیل وروسته، پـه لومړي د امریکا بې پیلوټـه الوتکو د هېواد پـه شمال کې پر طالبانو بریدونـه کړي دي.

فاکس نیوز د متحده ایالتونو د دفاع وزارت د یوه چارواکي لـه خولې ویلي، چې دغه بریدونـه د امریکایي بې پیلوټـه الوتکو پـه واسطه پـه بغلان او کندز ولایتونو کې شوي چې طالبانو تـه یې پکې مرګ ژوبلـه اړولې ده.

د امریکا د بې پیلوټو الوتکو لـه خوا بریدونـه داسې مهال کېږي، چې د امریکا ولسمشر جو بایډن د افغانستان پـه وخت ورمه شپه لـه ولسمشر غني سره پـه لیدنه کې وویل چې پوځیان بـه یې لـه افغانستانه ووځي، خو دوی بـه لـه یاد هېواده خپل ملاتړ تـه دوام ورکوي. بایډن دغه راز ویلي چې هېواد یې لـه افغان ځواکونو څخه پـه اقتصادي او سیاسي برخه کې خپلو مرستو تـه دوام ورکوي. بلخوا د نظامي چارو کارپوهان بیا امریکا دغه ډول بریدونو تـه پـه اشارې وایي چې متحده ایالتونو بـه د پوځیانو لـه وتلو سره سره، طالبانو تـه اجازه ور نه کړي، چې زیاتې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راولي. د نظامي چارو کارپوه جنرال عتیق الله امرخېل وایي: «ولسمشر بایډن اعلان وکړ چې د سپټمبر تر ۱۱مې بـه موږ وځو، خو په مشروط ډول، دویم یې ویلي چې موږ بـه هېڅکله دې تـه حاضر نـه شو چې کوم ولایت یا ښار د طالبانو لاس تـه ولوېږي، دا ډېر واضح پیغام و طالبانو تـه چې امریکا بـه لا هم د افغانستان لـه دولت او امنیتي ځواکونو سره مرسته او لـه دوی دفاع کوي.»

پـه ورته مهال د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد هم تایید کړې چې دغه بریدونـه په بغلان او کندز ولایتونو کې د دوی پر جنګیالیو شوي، خو په خبره یې، دوی تـه پکې هېڅ ډول مرګ ژوبلـه نـه ده اوښتې.

دا پـه داسې حال کې ده چې پـه دې وروستیو کې د هېواد پـه شمالي ولایتونو کې جګړو او نښتو زور اخیستی چې لـه کبلـه یې د افغان ځواکونو او طالبانو تر منځ ځینې ولسوالۍ هم لاس پـه لاس شوې دي.

# با وجود گذشته ها، باز باشیم

ولادیمیر پوتین رئیس جمهور روسیه

درست ۸۰ سال پیش از امروز، نازی ها ضمن اشغال تمام اروپا در عمل، در ۲۲ ماه جون سال ۱۹۴۱ میلادی بالای اتحاد شوروی حمله کردند. جنگ کبیر میهنی برای مردم اتحاد شوروی آغاز گردید یعنی خونبارترین جنگ در تاریخ کشور ما. ده ها میلیون انسان جان های خود را از دست دادند، خسارات هنگفتی به ظرفیت های اقتصادی و ثروت های فرهنگی اتحاد شوروی وارد گردید.

شجاعت و سرسختی قهرمانان ارتش سرخ و سربازان در عقب جبهه مایه افتخار ماست. آنها نه تنها از استقلال و عزت وطن خود دفاع کردند، بلکه اروپا و جهان را از شر بردگی نجات دادند. و هر کسی که اکنون در صدد دوباره نویسی صفحات گذشته میباشد، بداند که حقیقت عبارت از آنست که سرباز شوروی نه بخاطر انتقام گیری از نازی ها به سر زمین آلمان رفته بود، بلکه با یک ماموریت نجیبانه و بزرگ برای آزادی. یاد آن قهرمانان برای ما مقدس است که در برابر نازی ها مبارزه کرده اند. ما ضمن سپاسگزاری از خاطرات متحدین خود در ائتلاف ضد هتلری، شرکت کنندگان مقاومت و آلمانی های ضد فاشیستی یاد آوری مینماییم که پیروزی مشترک را نزدیک ساخته بودند. مردمان اروپا با تحمل وحشی گری های جنگ جهانی، به هر حال توانستند بر بی اتفاقی (بیگانگی) فایق آمده، اعتماد و احترام متقابل را بین خود اعاده کرده و خط مشی همگرایی را اختیار نمایند تا که خط و رسم نهایی را برای تراژیدی های اروپایی نیمه اول قرن گذشته بکشند. میخواهم به ویژه تأکید نمایم که مصالحه تاریخی بین مردمان مان و آلمانی های ساکن هم در شرق و هم در غرب آلمان متحد امروزی، نقش قابل ملاحظه را در برقراری چنین اروپا بازی نموده اند و همچنان آن موضوع را بیاد میآورم که همان تاجران آلمانی بودند که به پیشقدمان همکاری با کشور ما تبدیل گردیده بودند. سند «معامله قرن» در مورد اکمالات درازمدت گاز طبیعی به اروپا در سال ۱۹۷۰ میلادی بین اتحاد شوروی و آلمان عقد گردیده بود. این سند وابستگی متقابل- سازنده را تهداب گذاری کرده و بعنوان آغازگر بسیاری از پروژه های بزرگ بعدی پنداشته میشود.

ما امیدوار بودیم که پایان جنگ سرد یک پیروزی مشترک برای اروپا خواهد بود. بنظر میرسید که عنقریب رویای شارلی دی گول پیرامون یک قاره واحد حتی نه جغرافیایی «از اتلانتیک تا اورال»، بلکه به یک واقعیت فرهنگی و تمدنی از لزبن تا ولادیوستوک به واقعیت تبدیل میگردید.

بخصوص در همین منطق یعنی در منطق آبادی یک اروپای بزرگ که با ارزش ها و منافع مشترک با هم گره خورده است، روسیه تلاش نمود تا مناسبات خود را با اروپایی ها توسعه بخشد. هم ما و هم اتحادیه اروپا کارهای زیادی را در این راستا انجام داده ایم.

ولی یک برخورد دیگر بر آن چیره شد. توسعه ائتلاف اتلانتیک شمالی (ناتو) اساس این برخورد را تشکیل میدهد. خود این ائتلاف ، یادگار جنگ سرد را از خود جلوه میدهد. زیرا این پیمان برای رویارویی زمان های مختلف در آن دوران نیز ایجاد گردیده بود.

همانا تحرکات پیمان به طرف شرق در واقع از آن آغاز گردید که رهبری اتحاد شوروی را برای پذیرفتن عضویت آلمان متحد به ناتو عملاً ترغیب کردند و به دلیل اساسی برای رشد سرسام آور عدم اعتماد متقابل در اروپا تبدیل گردید. وعده های داده شده به کلمات را مبنی بر اینکه «این بر علیه شما نیست» که «سرحدات پیمان به نزدیکی شما کشانده نخواهد شد» یعنی اینکه عجله کردند زود فراموش نمایند و اما سابقه ایجاد گردیده بود.

از سال ۱۹۹۹ میلادی باین طرف پنج موج دیگر توسعه ناتو به ملاحظه میرسد، ۱۴ کشور جدید عضویت پیمان را کسب کرده اند، بشمول جمهوری های اتحاد شوروی سابق که آرزوهای موجودیت یک قاره بدون سرحد را بخاک سپرده است. در اواسط سال های ۸۰ میلادی یکی از رهبران حزب سیوسیال دموکراتیک آلمان اگون بار هشدار داده بود. این رهبر، بازسازی کامل کلیه سیستم امنیتی اروپا را پس از اتحاد آلمان پیشنهاد کرده بوده، در ضمن هم با اشتراک اتحاد شوروی و هم ایالات متحده امریکا. لیکن هیچ‌کس نه در اتحاد شوروی و نه در ایالات متحده امریکا، و نه در اروپا نخواستند به حرف های اگون بار گوش بدهند.

علاوه بر آن، بسیاری از کشورها با یک انتخاب تصنعی مواجه گردیدند یعنی اینکه یا همراه با غرب مشترک باشید و یا با روسیه. این در واقع یک اولتیماتوم بود. اینچنین سیاست خشونت بار باعث بروز کدام پیامدها گردیده است، ما به نمونه تراژیدی اوکرائین در سال ۲۰۱۴ میلادی میبینیم. اروپا از کودتای مسلحانه برخلاف قانون اساسی در اوکرائین فعالانه حمایت کرد. همه چیز از همین جا آغاز شد. چرا این کار باید صورت میگرفت؟ یانوکوویچ، رئیس جمهور برحال در آنزمان با تمامی خواست های مخالفین موافقت کرده بود. چرا ایالات متحده امریکا کودتا را سازماندهی کرد و چرا کشورهای اروپا با تحریک شگاف در خود اوکرائین و همچنان تحریک موضوع بیرون شدن کریمیا از ترکیب این کشور یعنی با یک اراده ضعیف از کودتا در اوکرائین حمایت کردند؟

حالا کلیه سیستم امنیتی اروپا شدیداً تخریب شده است. تشنج رو به افزایش است، خطرات مسابقات جدید تسلیحاتی به واقعیت تبدیل میشوند. فرصت های بزرگی را از دست میدهیم که برای ما چانس همکاری را میدهند، بخصوص که این همکاری همینطور بسیار مهم است، آنهم زمانی که چالش های مشترک در برابر همه ما قرار دارند یعنی پاندمی و پیامدهای سنگین اجتماعی – اقتصادی آن.

چرا اینگونه جریان دارد؟ و مهمتر از همه، ما یکجا متعهد به کدام نتیجه گیری ها میباشیم؟ کدام درس های از تاریخ را بیاد بیاوریم؟ فکر میکنم که مقدم بر همه در آن موردی که تمام تاریخ پس از جنگ اروپای بزرگ بر این موارد مهر تأیید میگذارد: شگوفایی و امنیت قاره مشترک ما صرف با مساعی مشترک همه کشورها، بشمول روسیه ممکن میباشد. چرا که روسیه یکی از بزرگترین دولت های اروپایی میباشد و ما ارتباط جدا ناپذیر فرهنگی و تاریخی خود با اروپا را احساس میکنیم.

ما برای همکاری های مشترک صادقانه و خلاق باز میباشیم. این مورد را مفکوره ما برای ایجاد فضای واحد همکاری ها و امنیت از بحیره اتلانتیک تا اوقیانوس آرام ثابت میسازد. این فضاء فارمت های مختلف همگرایی را شامل خود خواهد ساخت، منجمله اتحادیه اروپا و اتحادیه اقتصادی اروپا- آسیا.

باز هم تکرار میکنم: روسیه طرفدار احیای مجدد مشارکت همه جانبه با اروپا میباشد. ما موضوعاتی زیادی داریم که حافظ منافع متقابل ما میباشند. این موارد عبارت از امنیت و ثبات ستراتیژیک، حفظ صحت و تعلیم و تربیه، دیجیتال سازی، انرژی، فرهنگ، علوم و تکنالوژی، حل مشکلات اقلیمی و اکولوژی میباشند.

جهان بصورت پویا در حال توسعه بوده و با چالش ها و تهدیدات جدید مواجه میباشد و به سادگی نمیتوانیم بخود اجازه بدهیم تا بار سوء تفاهم ها و آزردگی ها، اختلافات و اشتباهات گذشته را بدوش خود بکشیم. باری که به ما اجازه نخواهد داد تا روی حل مسایل مبرم تمرکز نماییم. معتقدیم که برای همه ما لازم است تا به این اشتباهات اذعان کرده و به اصلاح آنها بپردازیم. تأمین امنیت قاره یی بدون سرحد، فضای واحد برای همکاری ها با برابری حقوق و انکشاف سراسری بنام شگوفایی اروپا و جهان در مجموع هدف مشترک و بدون چون و چرای ما را تشکیل میدهند.

# امریکا ته د ولسمشر غني د سفر پای؛

## بایډن: ځواکونه وباسو، افغانان دې د راتلونکي په تړاو په خپله پرېکړه وکړي



امریکا ته د ولسمشر غني او ورسره مل پلاوي دوه ورځنی رسمي سفر پای ته رسېدلی دی. نوموړي په امریکا کې د یوې خبري ناستې پرمهال خپل دغه سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ د نویو اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې رغنده او گټور بللی دی.

ولسمشر غني په یاد سفر کې د امریکا له ولسمشر جو بایډن، د دفاع له وزیر لویډ اسټین، د بهرنیو چارو له وزیر انتوني بلېنکن، د ملي امنیت له سلاکار جک سلیوان، د سي آی له مشر، د گانکرېس له مشرتابه او غړو او دغه راز په افغانستان کې د وژل شویو امریکایي سرتېرو له کورنیو او د امریکا له پخوانیو پوځي او سیاسي چارواکو سره جلا جلا ناستې درلودې.

د امریکا ولسمشر جوبایډن یو ځل بیا ټینگار کړی، چې د سپټمبر تر ۱۱مې به له افغانستانه خپل ټول ځواکونه راوباسي، خو له دغه هېواد سره به په بېلابېلو برخو کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

بایډن زیاتوي: « د افغانستان او متحده ایالتونو مشارکت نه ختمېږي، بلکې دوام کوي. لکه څنگه چې تاسې پوهېږئ، زموږ ځواکونه به له افغانستانه ووځي، خو زموږ له لوري د افغانستان ملاتړ نه ختمېږي. دا ملاتړ به د نظامي وسایطو او تجهیزاتو د ساتنې او پالنې په برخه کې او همدارنگه د سیاسي او اقتصادي مرستو په بڼه دوام وکړي».

بایډن دغه راز ویلي چې امریکا په افغانستان کې له نږدې شل کلن حضور وروسته پرېکړه کړې، ترڅو له دغه هېواده خپل ټول پوځیان کور ته راستانه کړي، خو اوس هغه وخت رارسېدلی چې افغانان او د دوی مشران د خپل هېواد په اړه په خپله پرېکړه وکړي، چې دوی څه ډول افغانستان غواړي. د نوموړي په خبره: « افغانان به د خپل راتلونکي په اړه په خپله پرېکړه کوي چې څه غواړي، خو په دې برخه کې به زموږ د مرستو کمی نه وي. دا بې رحمه تاوتریخوالی باید نور بس شي، که څه هم ډېر سخت به وي».

په ورته مهال ولسمشر غني بیا له بایډن سره د ناستې پرمهال وویل چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو د امریکا پرېکړې ته درناوی کوي، خو ټینگار کوي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د نوي فصل په پرانیستل کېدو سره به له افغانستان سره د امریکا هر اړخیزې مرستې دوام وکړي. نوموړي زیاته کړه: « له افغانستانه د امریکایي ځواکونو ویستلو په اړه د جمهور رییس بایډن پرېکړه تاریخي پرېکړه وه. دې پرېکړې ټول خلک متوجه کړل چې بیا له سره فکر وکړي، موږ دلته د دې پرېکړې درناوی او ملاتړ کوو. درېیم، موږ د اړیکو یوه نوي فصل ته ورځو، په دې فصل کې به له متحده ایالتونو سره مشارکت، زموږ مشترکو گټو ته په کتو نظامي نه، بلکې هر اړخیز وي. موږ خوښ او ډاډه یو چې دا مشارکت به دوام ومومي».

که څه هم افغان چارواکي امریکا ته د ولسمشر غني سفر گټور او له لاسته راوړنو ډک بولي، خو د سیاسي چارو کارپوهان بیا وایي چې په دغه سفر کې امریکا یوازې خپلې تېرې ژمنې تکرار کړې، خو د نویو او مهمو مسایلو په تړاو پکې هېڅ لاسته راوړنه نه ښکاري. د سیاسي چارو کارپوه نجیب الله ازاد وایي، چې امریکایي لوري د ولسمشر غني د سفر پرمهال له نوموړي سره هغه ژمنې بیا تکرار کړې، چې څه موده وړاندې یې هم کړې وې.

د یادونې ده چې د دواړو هېوادونو د چارواکو ترمنځ په دغو ناستو کې پر دوو اړخیزو اړیکو او همکاریو سربېره، د حامد کرزي نړیوال هوایي ډگر او په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو د سفارتونو پر خوندیتوب هم خبرې شوي او ویل کېږي د امریکا یو تخنیکي نظامي پلاوی ترکیې ته تللی او د یاد هوایي ډگر د امنیت د خوندیتوب په تړاو له ترکي چارواکو سره په خبرو بوخت دی.

## د کتاب خبرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




### د بېگار د کمپ (زندان) تجربې

بېرته به د بندیانو د انتقال موټر ته راشو. دلته وخت هم لنډ او تنگ و او اخلاقي او وجداني مسایل هم پکې نه وو.
د هر بندي په ذهن کې یوازې یوه خبره وه چې ځان خپلې په تمه کورنۍ ته ژوندی وساتي او د خپل ملگري ژوند وژغوري. په دې خاطر به بندیانو ښه په ډاډه زړه او بې له اندېښنې د بل زنداني شمېره ټاکله چې د ده پر ځای موټر ته پورته شي.
لکه مخکې مې چې وویل، د کاپوانو د ټاکلو پروسه منفي وه، ځکه تر ټولو بې رحمه او ظالم به یې دې کار ته گوماره (که څه هم ځینې وخت به پکې استثنا وه). د کاپوانو ټاکلو یوه پروسه خو دا وه چې د (SS) له خوا به ټاکل کېدل، د دې تر څنگ د ځان ټاکنې یو ډول پروسه هم وه. عموماً به هغه زندانیان ژوندي پاتې کېدل چې کلونه کلونه به له یوه زندانه بل ته لېږدول کېدل او بلاخره به یې ژوند ته د مبارزې په لار کې خپل ټول اخلاقي ارزښتونه وبایلل. دوی به یوازې د ژوندي پاتې کېدو لپاره په هېڅ ښه او بد کار صرفه نه کوله. غلا به یې کوله، پر ملگرو به یې ظلم کاوه او دا ټول به یې یوازې د ځان ساتنې لپاره کول. موږ چې له نېکه‌مرغه معجزې یا ستاسې په نظر د بل هر څه په برکت له دې زندانه راستانه شوي یو، پر دې ښه پوهېږو چې په موږ کې ډېر «ښه ښه خلک» بېرته نه دي راستانه شوي.
د پنډغالو ډېرې زیاتې واقعي پېښې ثبت شوې او لیکل شوې دي. دلته به حقایق په دې خاطر مهم وي چې د یوه کس د تجربو برخه به وي. په دې کتاب کې د همدې تجربو د تشریح کولو هڅه کوو. چا چې په دې زندانونو کې بند تېر کړی وي، له هغوی سره به کتاب دا مرسته وکړي چې د نننې علم په رڼا کې خپلې تجربې تشرېح کړي او چا چې په زندان کې وخت نه دی تېر کړی، له هغوی سره به د دې تجربو په درک کې مرسته وکړي. پر دې سربېره به د هغې لړۍ سلنې زندانیانو پر تجربو پوه شي چې له دې زندانه ژوندي راوتي او اوس ورته ژوند ډېر سخت دی. دا پخواني زندانیان وايي: «موږ ته په خپلو تجربو غږېدل خوند نه راکوي. څوک چې دننه وو، هغوی ته یې د ویلو حاجت نه شته او نور به نه پر دې پوه شي چې څه مو احساس کړي او نه پر دې پوهېږي چې اوس څه احساسوو.» د دې موضوع علمي ارایه ډېره سخته ده، ځکه ارواپوهنه دقیقې بې طرفۍ ته اړتیا لري. خو یو کس چې پخپله زنداني تېر شوی وي.

**دوام لري...**

# اهل بیت د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




اهل بیت د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعیت لري، په ۱۳۹۲ کال کې یې پر فعالیت پیل وکړ. د اهل بیت د لوړو زده کړو موسسې د رییس ښاغلي سید حبیب الله طاهري په وینا، دوی د پیل پر مهال دوه پوهنځي حقوق او سیاسي علوم او شرعیات درلودل، خو له څه مودې وروسته یې له لوړو زده کړو وزارت څخه د قابلگۍ پوهنځي جواز هم تر لاسه کړ، چې اوسمهال د دریو پوهنځیو په چوکاټ کې خپلې درسي چارې پر مخ وړي.
ښاغلي طاهري وویل، دوی ټول شاوخوا ۶۰۰ محصلین لري چې په دې ډله کې یې تر ۴۰ سلنې پورې ښځینه محصلینې دي او پاتې نور یې نارینه محصلین جوړوي، چې د اهل بیت د لوړو زده کړو موسسې په دریو بېلو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي.
ښاغلي سید حبیب طاهري زیاته کړه، دوی تر دې دمه د اهل بیت له لوړو زده کړو موسسې څخه په څلورو دورو کې تر ۴۰۰ پورې محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
د اهل بیت د لوړو زده کړو موسسې رییس همدا راز وویل، دوی هر کال له ۱۰۰ تر ۱۵۰ پورې نوي محصلین جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي.
د ښاغلي طاهري په خبره، دوی په ټوله کې د ښځینه محصلینو لپاره په خپل سمیسټروار فیس کې تر شل سلنې پورې تخفیف وړاندې کوي.
ښاغلي سید حبیب طاهري همدا راز زیاته کړه چې دوی د اهل بیت د لوړو زده کړو په موسسه کې په دوو درسي ټایمونو کې خپل محصلین د زده کړو لپاره را غواړي، چې یوه یې سهارنۍ دوره ده چې د سهار له اتو د غرمې تر دوولسو دوام کوي او بله یې ماښامنۍ دوره ده چې د ماذیگر له څلور نیمو د ماخوستن تر اته نیمو بجو پورې دوام کوي.
د ښاغلي طاهري په خبره، دوی د اهل بیت د لوړو زده کړو په موسسه کې مجهز کتابتون لري، چې تر ۳۰۰۰ جلده پورې مختلف تخصصي او مهم کتابونه پکې دي او محصلین کولای شي وخت ناوخت ورته مراجعه وکړي او خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.
ښاغلی حبیب الله طاهري زیاتوي چې دوی په هېواد کې د ننه او له هېواده د باندې له ډېرو خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره نېکې اکاډمیکې اړیکې لري، چې پر بنسټ یې یو له بل سره علمي تجربې او لاسته راوړنې شریکوي او همدا راز له هېواده د باندې بهرنیو پوهنتونونو ته خپل محصلین د لوړو زده کړو لپاره استوي.
ښاغلي طاهري په خپلو خبرو کې وویل، دوی د اهل بیت د لوړو زده کړو په موسسه کې تر ډېره حده د ماسټرۍ او دکتورا تر کچې د لوړو زده کړو لرونکي استادان لري، چې تر ۳۰ سلنې یې ښځینه استادانې او پاتې نور یې نارینه استادان تشکیلوي.
ښاغلي حبیب الله طاهري همدا راز وویل چې دوی تر دې دمه خپلو ټولو فارغ شوو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي اسناد ورکړي دي، څو یې له حقوقو او امتیازاتو گټه واخلي.
د ښاغلي طاهري په وینا، دوی د محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه ځینې امکانات لکه مجهز کتابتون، لابراتوار، د موسسې لپاره خصوصي ودانۍ، مجرب استادان او داسې نور لري.
ښاغلی طاهري وایي چې دوی د موسسې د پرمختگ او بډاینې لپاره ځینې پلانونه له ځان سره لري چې تمه ده په نږدې راتلونکي کې به عملي شي. د نوموړي په خبره، د نورو پوهنځیو زیاتول، د پوهنتون کچې ته د موسسې ارتقاع، د موسسې لپاره نوې او لویه ودانۍ هغه پروگرامونه دي چې دوی یې په راتلونکي کې د عملي کولو هوډ لري.
ښاغلي حبیب الله طاهري په خپلو خبرو کې وویل، دوی له دولت او په ځانگړې توگه له لوړو زده کړو وزارت څخه ځینې غوښتنې لري. د نوموړي په وینا، په نورو هېوادونو کې د علمي مرکزونو بریښنا هېڅ لگښت نه لري او دولت ترې پیسې نه اخلي، خو په افغانستان کې نه یوازې دا چې د بریښنا لگښت باید تحویل کړل شي، پر دې سربېره مالیات لوړ دي، خصوصي علمي مرکزونو ته اړتیا پوره کوونکې اسانتیاوې نشته، همدارنگه د هېوادوالو فقر او غریبي د دې لامل شوې څو ډېری ځوانان له لوړو زده کړو څخه بې برخې پاتې شي، د نوموړي په خبره، د یادو ډېری ستونزو حللاره له دولت او لوړو زده کړو وزارت سره ده چې باید په یاده برخه کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړي، د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته لا ډېره پاملرنه وکړي او د ستونزو د حل په برخه کې یې لاسنیوی وکړي.

Citizens Organization for Advocacy and Resilience
موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی
CoAR 1989
اعلان داوطلبی
موسسه موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه بین المللی NCA تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (WASH) درولایت کابل وخوست برای تهیه آب اشامیدنی پیپ ها را خریداری نماید. آنعده شرکت های لوجستیکی وشرکت های تولید کننده پایپها که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (Jun 27, 2021) الی (July 10,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.
خانه نمبر ۴۸ ، ازطرف پل سرخ نا رسیده به گولای پل وحدت ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af

Citizens Organization for Advocacy and Resilience
موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی
CoAR 1989
اعلان داوطلبی
موسسه موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه بین المللی NCA تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (WASH) درولایت کابل وخوست برای حفاظت ذخایر آب وسولر سیستم ها احاطه اعمار نماید. آنعده شرکت های ساختمانی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (Jun 27, 2021) الی (July 10,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.
خانه نمبر ۴۸ ، ازطرف پل سرخ نا رسیده به گولای پل وحدت ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹ |
| € | ۹۴,۳۰ |
| Rp. | ۴۹۶ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۶۰ |
| £ | ۱۰۷,۸۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د پرمختګ او بریا لپاره ولې سهار وختي پاڅېدل اړین دي؟

ژباړه: صفي الله پادشاه

کېدای شي وواياست چې سهار په څو بجو له خوبه پاڅېږئ، څو ځرګنده شي چې تاسو څوک یاست او د ژوند د هیلو او موخو پر وړاندې مو څه ډول تګلاره غوره کړې ده. د سهار لخوا ستاسو له خوبه د پاڅېدلو وخت ستاسو د شخصیت ځرګندویي کوي.

د سهار لخوا په څلورو بجو، شپږو بجو او یوولسو بجو له خوبه د را پاڅېدلو تر منځ لوی توپیر شته. په ځانګړې توګه د هغو کسانو د کړنو، خبرو او شخصیت تر منځ ډېر توپیر شته چې د سهار د څلورو بجو او شپږو بجو په منځ کې له خوبه پاڅېږي. که چېرې تاسو د سهار له شپږو بجو مخکې له خوبه نه پاڅېږئ، پوه شئ چې موخه مو لا هم دومره لويه او د ارزښت وړ نه ده، له همدې امله خپلې موخې ته د رسېدو پر ځای خوب کول غوره ګڼئ.

موږ تاسو ته نه وایو چې کله کله وختي له خوبه پاڅېږئ، بلکې زموږ موخه دا ده چې د تل لپاره وختي له خوبه پاڅئ او د خپلو هیلو او موخو د لاسته راوړلو لپاره کار وکړئ، هڅه وکړئ، تمرکز وکړئ، فکر وکړئ او هر هغه کار تر سره کړئ چې په ترڅ کې یې خپلو هیلو او موخو ته رسېږئ.

ایا غواړئ د هغو کسانو له نږۍ سره اشنا شئ چې د سهار له شپږو بجو مخکې له خوبه پاڅېږي؟ په دې لړ کې باید لومړی د خلکو د هغې مشخصې ډلې په هکله خبرې وکړو چې کله کله د یو ځانګړي دلیل له مخې سهار وختي له خوبه پاڅېږي او تاسو ډېر کله ورسره مخ کېږئ او وینئ یې. زموږ موخه هغه کسان دي چې پر لاره کاږه واږه روان وي، تل ګیلې او شکایتونه کوي، سترګې یې د ډېر خوب له لاسه نیمې لوڅې وي او داسې ښکاري چې ګواکې خپل نیم هوښ یې له لاسه ورکړی دی. ډاډه یم چې دا ډول کسان مو په خپله شاوخوا، کاري چاپېریال او نورو ځایونو کې لیدلي دي. دا چې هغوی په ژوند کې کومه مهمه او د ارزښت وړ موخه نه لري، همدا لامل دی چې د شپې تر ډېره وینښ وي، که چېرې د سبا ورځې په لړ کې کوم کار لري، هغه ورځ بیا وختي له خوبه پاڅېږي، کنه نو تر نیمې ورځې ویده وي.

که هر سهار له شپږ بجو مخکې له خوبه پاڅېږئ، نو پوهېږئ ګټه به یې څه وي؟

لومړۍ مثبته پېښه: تاسو خپله ورځ د هغه کار په تر سره کولو پیلوئ، چې په پوره توګه مینه ورسره لرئ او غواړئ چې په لېوالتیا سره یې سرته ورسوئ.

د سهار په څلورو، پنځو او شپږو بجو تاسو له هېچا سره د کوم کار یا بلې موضوع په هکله ژمنه نه لرئ، دا هغه وخت دی چې پکې ازاد یاست، یوازې تاسو یاست او د خپلې خوښې وړ کارونه مو. دا هغه وخت دی چې تاسو پکې خپل څو ساعتونه د هغو کړنو پر تر سره کولو تېروئ، چې د زړه له تله مینه ورسره لرئ او ستاسو د خوښۍ لامل کېږي.

خو که د سهار په اتو بجو له خوبه پاڅېږئ، اړ یاست چې په بېړه بېړه سبا ناری وکړئ، جامې مو واغوندئ او په بېړه سره د کارځای ته ځان ورسوئ، د لارې په اوږدو کې هم له هغو موټر چلوونکو سره مخ کېږئ چې ستاسو له تمې او غوښتنې خلاف، ډېرې خبرې کوي او سر مو په درد کوي او همدا چې خپل کارځای ته رسېږئ، په داسې کارونو کې ډوبېږئ چې له سره مینه نه ورسره لرئ او ټول یې د زړه په زور تر سره کوئ.

خو د دې هر څه خلاف، که چېرې د سهار په څلورو بجو له خوبه پاڅېږئ، کولای شئ د ورځې د پیل څو ساعتونه مو پر هغو خوښې ښونکو کړنو تېر کړئ، چې مینه ورسره لرئ او د ورځې په لړ کې مو تر او تازه ساتي. دغه څو ساعته نه یوازې دا چې ستاسو د سټریا او ناراحتۍ لامل نه کېږي، بلکې په کارځای کې به هم د خپلو ورځنیو چارو د تر سره کولو لپاره مثبته انګېزه او انرژي درکړي.

دویمه مثبته پېښه: انګېزه به مو پیاوړې وي!

د سهار پر مهال ستاسو له خوبه د پاڅېدو ساعت، نه یوازې دا چې په ژوند کې ستاسو د بریالیتوب لپاره حیاتي رول لري، بلکې ستاسو د اوسنۍ لېوالتیا د کچې ټاکونکی او مشخصوونکی هم دی. که نه شي کولای چې سهار وختي له خوبه پاڅېږئ، له دې مالومېږي چې د بریالیتوب او بریالي کېدو لپاره په کافي توګه انګېزه هم نه لرئ.

خوب کول او ویده کېدل مهم دي، موږ انسانان د خپل ژوند درې پر څلور برخه په خوب کولو تېروو! زموږ ډېرې تصمیمونه او د ورځني ژوند د اطلاعاتو طبقه بندي د خوب پر مهال تر سره کېږي، هو، خوب کول مهم دي؛ خو انګېزه تر خوب کولو هم مهمه ده. که چېرې تاسو د ژوند کولو لپاره ډېره انګېزه ولرئ، ښايي له یاده مو ووځي چې باید خواړه وخورئ، ویده شئ او یا پر دې پوه شئ چې څو بجې دي! دومره به په خپلو چارو کې ډوب شئ چې ان له خپلې شاوخوا نړۍ څخه به هم بې خبره اوسئ.

درېیمه مثبته پېښه: له نورو څخه وختي پیل کوئ او لاس پکار کېږئ

که تاسو وختي پاڅېږئ، نو معلومه ده چې ستاسو رقیبان په درانه خوب ویده دي، تاسو وینښ یاست او د خپلو موخو او هیلو پر لور له خنډونو د ډکې لارې د فتح کولو په حال کې یاست. دا هر څه یانې په ربښتیني مانا بریالیتوب.

د سهار پر مهال په وختي وينښېدو سره له خپلو سیالانو څخه ډېرې هڅې کوئ، له خپلو سیالانو څخه مخکې هڅې کوئ او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره تر هغوی مخکې چمتووالی نیسئ. که چېرې تاسو د ورځې په لړ کې یو ساعت کتاب ولولئ، د میاشتې په اوږدو کې به مو له دېرش ساعتونو څخه ډېر کتاب لوستی وي، دا په دې مانا چې تاسو له خپلو سیالانو څخه دېرش برابره ډېر پوهېږئ، دېرش برابره ډېر اطلاعات لرئ او کولای شئ د هغوی په پرتله فرصتونه ژر کشف کړئ.

د کار او کسب د نړۍ ټول مخکښ کسان او رهبران هڅه کوي څو له خپلو رقیبانو څخه وختي له خوبه پاڅېږي او تر بل هر چا ژر لاس پکار شي. هغوی پر دې پوهېږي چې د پرمختګ فرصت له هغه چا سره دی چې تر بل هر چا مخکې پیل کوي او په لا ډېر تمرکز سره خپلې چارې پر مخ بیايي.

څلورمه مثبته پېښه: له خوب څخه په وختي ویښېدو سره به د فکر کولو، تصمیم نیولو او تمرکز کولو لپاره تر ټولو غوره وخت ولرئ

کله چې نور خلک ویده وي، تاسو وینښ یاست څو برخلیک ټاکونکي تصمیمونه ونیسئ. که چېرې دومره لویه موخه او هیله ولرئ چې وغواړئ خپل د سهار وختي ژور خوب ترې قرباني کړئ، ډاډه اوسئ چې د سهار د څلورو بجو ساعت، د ویښېدو، تصمیم نیولو او یادې موخې ته د رسېدو لپاره طلايي ساعت دی. په دغه ساعت کې تاسو د نړۍ په تر ټولو ساکت او خاموش ساعت کې قرار لرئ، کار کوئ، فکر کوئ او دغه مهال ټوله نړۍ ویده ده څو تاسو ته د خپلې موخې د تر لاسه کولو لپاره د غوره فکر او تمرکز کولو ارام وخت په واک کې درکړي.

پنځمه مثبته پېښه: خپل ډېر وخت پر هغو کړنو تېروئ چې د زړه له تله مینه ورسره لرئ او په پوره لېوالتیا سره یې تر سره کوئ.

د خپلو هغو ورځنیو ټاکلو ساعتونو تر څنګ چې خپلې چارې پکې تر سره کوئ، د سهار په څلورو بجو له خوب څخه په وینښېدو سره به تاسو تر نورو څو ساعته زیات وخت ولرئ، څو هغه کړنې پکې تر سره کړئ چې مینه ورسره لرئ او په بشپړه لېوالتیا سره یې د تر سره کولو لپاره متې را نغاړئ.

په داسې حال کې چې نور له تاسو سره د وخت د کمښت په هکله خبرې کوي، تاسو پوهېږئ چې د ورځې په یوه ټاکلې محدوده کې تاسو له هغوی څخه څو ساعته زیات وخت لرئ، هغه هم د ورځې له تر ټولو غوره ساعتونو څخه څو ساعته. هغه ساعت چې پکې سهار له خوبه را پاڅېږئ، په بشپړه توګه سرنوشت ټاکونکی او د ارزښت وړ دی. هر څومره چې له خوبه وختي پاڅېږئ، په همغه اندازه به د ورځې له اوږدو څخه، څو تر ټولو غوره ساعتونه له ځان سره ولرئ. که چېرې د سهار لخوا وختي پاڅېدل غوره کړئ، ډېر ژر به د هغو کسانو او خپل راتلونکي تر منځ لوی توپیر رامنځته کړئ، چې د غرمې پر مهال له خوبه را پاڅېږي او له هېڅ ډول موخې او هیلې پرته له نیمې ورځې څخه خپل ژوند ته دوام ورکوي.

تاسو څه وخت له خوبه پاڅېږئ او ایا غواړئ چې د سهار پر مهال له خوب څخه د پاڅېدو خپل وخت او ساعت ته بدلون ورکړئ؟

په ځواب مو فکر وکړئ، د سهار پر مهال له خوب څخه د ویښېدو لپاره تر ټولو مناسب ساعت غوره کړئ څو تر بل هر چا مخکې غوره تصمیم ونیسئ، په بشپړ تمرکز سره ورځ پیل کړئ او په مثبتې انرژۍ سره د خپل راتلونکي ژوند لپاره موخې او هیلې وټاکئ څو یې د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو غوره فرصت ولرئ.

# واشنګټن او پاریس: تهران دې د نړۍ له قدرتونو سره د اټومي خبرو له چوکاټه نه وځي

امریکایي او فرانسوي ډیپلوماتان وايي، که د ایران پر اټومي فعالیتونو د څار د هوکړې موده تمدید نه شي، نو په ویانا کې به د ایران د اټومي تړون د احیا په موخه له شپږو اونیو راهیسې پیل شوي مذاکرات کړکېچن شي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن له خپل فرانسوي سیال ژان ایویس لو دریان سره په ګډه خبري غونډه کې په دې اړه ویلي: «موږ له ایران سره د ۲۰۱۵ز کال د اټومي موافقې پرسر لا هم جدي اختلافونه لرو. زموږ مرکچیان په را روانو ورځو کې د غیر مستقیمو خبرو په اووم پړاو کې د ګډون لپاره راستنېږي. موږ ګورو چې که دا اختلافونه حل کړای شو، خو دا جدي اختلافونه دي او موږ یې باید په حل بریالي شو. د اټومي انرژۍ د نړیوالې ادارې او ایران ترمنځ د څارنې د توافق په اړه جدي اندېښنې پرځای پاتې دي. په دې اړه له ایران سره خبرې شوي او دا مسئله باید حل شي.»



دا په داسې حال کې ده چې د ایران پر اټومي فعالیتونو د لنډمهالي څار هوکړه د روان ۲۰۲۱ز کال په فبروري میاشت کې د درېو میاشتو په مخه تایید شوه او موده یې د مې په ۲۴مه د یوې بلې میاشتې لپاره وغځول شوه چې اوسمهال یې موده پای ته رسېدلې ده. د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ د ادارې رییس رافایل ګروسي دوه ځلې پر ایران فشار راوړ چې دا هوکړه تمدید کړي، خو له تهرانه یې تر اوسه مثبت ځواب نه دی ترلاسه کړی. اوسمهال په دې اړه خبرې د تخنیکي ستونزو او د ایران د غوښتنې پر اساس درېدلې دي. د یادونې ده چې د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ د امریکا مخکینۍ اداره په ۲۰۱۸ز کال کې د ایران له اټومي تړون ووتله او پر دغه هېواد یې بېرته اقتصادي بندیزونه ولګول. ایران هم د امریکا د دغه اقدام په غبرګون کې د دغه تړون پر اساس له ځینو لګېدلو محدودیتونو څخه سرغړونې پیل کړې، خو فرانسه هغه هېواد دی چې د برېټانیا، جرمني، روسیې او چین ترڅنګ ولاړ دی او اوس له تهرانه غواړي چې دغو مذاکراتو ته حاضر شي.

د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر لودریان له بلېنکن سره په ګډه خبري غونډه کې ویلي، دی تمه لري چې ایران په دې برخه کې وروستۍ پرېکړه وکړي، څو مذاکرات ژر تر ژره نتیجه ورکړي.

د ایران ولسمشر حسن روحاني (چې د ولسمشرۍ موده یې پای ته په رسېدو ده) او نورو ایراني چارواکو د روانې اونۍ په پیل کې داسې نښې نښانې ځرګندې کړې، چې په اټومي خبرو کې پرمختګ شوی دی.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ !

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ شپږمه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۷مه | ۷۳۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳۶ | ۳۹ | ۳۷ | ٤٢ | ۳٤ |
| ۱۷ | ۲۳ | ۲۴ | ۲۹ | ۳٤ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۷ | لمر ختل ۰۴:۴۳ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۴:۵۹ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵۶

# عمران خان: تلاش طالبان برای پیروزی نظامی در افغانستان به جنگ داخلی می‌انجامد

عمران خان، نخست‌وزیر پاکستان، گفته است که طالبان اگر به دنبال پیروزی از راه جنگ باشند، افغانستان وارد جنگ داخلی خواهد شد. نخست‌وزیر پاکستان این اظهارات را در مصاحبه‌ای با نیویارک تایمز مطرح کرده است.

خان افزوده است که کشورش همواره به طالبان تفهیم کرده است که نباید به دنبال پیروزی نظامی در افغانستان باشند، زیرا این اتفاق رخ نخواهد داد. به باور عمران خان، در صورتی که طالبان در تلاش پیروزی از راه جنگ و نظامی باشند، افغانستان وارد جنگ داخلی طولانی خواهد شد. عمران خان گفته است که در صورت آغاز جنگ داخلی در افغانستان، دومین کشور قربانی پاکستان است. خان می گوید که طالبان در قدم نخست یک «جنبش پشتون» است و اگر جنگ داخلی آغاز شود، پاکستان با سیلی از مهاجران روبه‌رو خواهد شد. به گفته خان، مدیریت سه میلیون مهاجر افغانستان برای پاکستان تاکنون دشوار بوده است. خان هم‌چنان گفته است که چشم‌انداز آینده برای پاکستان رونق اقتصادی و تجارت از طریق افغانستان با آسیای میانه است.

## نړۍ



## واشنګټن او پاریس: تهران دې د نړۍ له قدرتونو سره د اټومي خبرو له چوکاټه نه وځي

۵

CoAR 1989
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی

اعلان داوطلبی

موسسه موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه بین المللی NCA تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (WASH) درولایت کابل وخوست به تعداد هفت ذخیره اشامیدنی اعمارنماید. آنعده شرکت های ساختمانی که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (Jun 27, 2021) الی (July 17,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۴۸ ، ازطرف پل سرخ نا رسیده به گولای پل وحدت ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی

اعلان داوطلبی

موسسه موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه بین المللی NCA تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (WASH) درولایت کابل وخوست برای هفت ذخیره آب اشامیدنی سیستم سولر رافعال نماید. آنعده شرکت های لوجستیکی وشرکت های تهیه کننده خدمات سولر که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (Jun 27, 2021) الی (July 17,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۴۸ ، ازطرف پل سرخ نا رسیده به گولای پل وحدت ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی

اعلان داوطلبی

موسسه موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه بین المللی NCA تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (WASH) درولایت کابل وخوست به تعداد پنج حلقه چاه آب اشامیدنی حفر نماید. انعده شرکت های ساختمانی در زمینه که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (Jun 27, 2021) الی (July 10,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۴۸ ، ازطرف پل سرخ نا رسیده به گولای پل وحدت ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af

کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا اداینې قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.

1515 www.azizibank.af
عزیزی بانک
Azizi Bank